غلا، درغلي، بدني زيان. د آلمان جنایی یا جرمي قانون څنګه کار کوي؟

آلمان يو آزاد هيواد دی، مګر ځينې مقررات شتون لري چې هرڅوک يې بايد په پام کې ونيسي. ممانعتونه د پارلمان لخوا پريکړه او د هغوی په قوانينو کې ځای په ځای کيږي. جنای قانون د خورا پام وړ حقونو او ګټو خونديتوب کوي. پدې معنې: د هرچا پروړاندې فزيکي تاوتريخوالی منع دی  په واده شوي ژوند او کورنۍ کې هم. د هغه شيانو پيرودل هم منع دي چې تاسو يې وس او توان نلرئ يا بې له ټيکټ پيرلو څخه بس کې سفر وکړئ. هرهغه څوک چې نشه ای توکي ولري يا معامله يې کوي ولو که خورا لږ مقدار هم وي هم د قانون لخوا د جزا سره مخ کيږي. دا د نورو شيانو ترمينځ حشيش او چرسو باندې هم پلي کيږي.

قانون د څارنوالۍ دفتر لخوا پلي کيږي. څارنوالي سمدستي تحقيق پيل کوي که چيرې د يوه جرم په اړه د شک کولو کافي دليل شتون ولري. پوليسو پدې تحقيقاتو کې مرسته کوي. که تاسو کوم جرم ووينئ يا د جرم قرباني اوسئ، سمدستي پوليسو ته زنګ ووهئ. هرڅومره ژر چې هغوی د جرم په اړه خبر شي، هغومره ګړندي به هغوی د غبرګون ښودلو او شواهدو خوندي کولو وړتيا ولري. مګر پوليسو د تحقيقاتو څخه هاخوا نور څه هم کوي: دوی د قربانيانو پاملرنه کوي، مرستندويه برنامې خبروي او دوی ورته راجع کوي. څارنوال او پوليس بايد ټول شرايط و څيړي، که د تورن نفر په زيان وي يا په ګټه. جنسي، مليتي او مذهبي تړاو هيڅ اهميت پدې لړ کې نلري. د آلمان قانون، محکمو، څارنوالۍ، او پوليسو پروړاندې ټول مساوي او يو شی دي. شخصي افراد، مامورين يا د روغې جوړې لپاره پخپله ګومارل شوي قاضيان نشي کولی چې تحقيق وکړي او نه هم د جرمونو جزا ټاکلی شي. دا د پوليسو، څارنوالۍ او محکمو اختصاصي واک دی. موږ دې ته "په تاوتريخوالي د دولت انحصار" وايو. حتی که چيرې د کوم جرم شکايت بيرته هم واخيستل شي، دواړه څارنوال او پوليس بايد خپل تحقيق ته دوام ورکړي. که چيرې د جرم شواهد شتون ولري، څارنوال به دغه موضوع محکمې ته ويسي. غير لدې به دوی تحقيق وتړي. وروسته به محکمه ټاکي چې ايا شکمن نفر په هغه پورې تړلی جرم کړی دی يا ندی کړی. ډيری وختونه، دا په عامه اوريدا کې ترسره کيږي ترڅو هرڅوک چې يې علاقه مند وي ګډون پکې وکړي. پدغه جريان کې به محکمه د شاهدانو څخه پوښتنې کوي. دوی بايد ريښتيني وي غير لدې د قانون لخوا ورته جزا ورکول کيږي. د اوريدا په پای کې محکمه خپل قضاوت وړاندې کوي.

محکمه په خپل کار کې په بشپړ ډول خپلواکه او يوازې د آلمان اساسي قانون او د پارلمان قوانينو ته مقيد ده.

د باورين آيالت د عدليه وزارت.  د خلکو لپاره عدالت.

